نجیب منلی

۲۰۱۸/۱۲/۱٤

که زه کاندید وای

# د کډوالو بېرته راتلل

دویمه برخه

## د کډوالو د بیا مېشتېدني ملي پروګرام

د کډوالو بیا مېشتېدني ته د پورته ذکر شویو ننګونو په پام کې نیول سره د هېواد په کچه د یو منظم، عملي، زمانبندي شوي او تمویل شوي پروګرام اړتیا ده.

### ۱ – مېشت ځایونه

د ځمکو د مدیریت اصل ته په کتو په کار ده چې د کډوالو د بیا مېشتېدني له پاره د هېواد هغه سیمې په نظر کې ونیول شي چې ځمکې یې ډېرې او نفوس یې کم دی. د نفوسو تراکم (پر هر کیلو متر مربع د اوسېدونکو شمېر) یو مناسب شاخص دی.

همدا راز لازمه ده چې د راستنېدونکو د بیا مېشتېدني له پاره داسې شرایط برابر شي چې هم د بیا مېشتېدني پروسه له انساني اړخه د زغملو وړ وي او هم له اقتصادي اړخه پایېدونکې وي.

د کډوالو د بیا مېشتېدلو له پاره باید لازمي جغرافیایي ساحې داسې انتخاب شي چې نه یوازې د کډوالو راتګ پر ځایي ولسونو و نه غمېږي بلکې برعکس د کډوالو راتګ د هغو سیمو او ولایتونو له پاره د پرمختګ او ټولنیزې-اقتصادي پیاوړتیا یو مهم محرک ځواک شي.

د بیا مېشتېدني له پاره به په لومړي نظر کې د پینځه زره کورونو ښارګوټي یو مناسب ظرف وي.

د یو نیم او دوو ملیونو کډوالو د بیا مېشتولو له پاره د شاوخوا درې سوو زرو استوګنځایونو اړتیا لیدل کېږي چې په شاوخوا شپېتو، پینځه زره کوریزو واحدونو (ښارګوټیو) کې تنظیمېدلای شي.

دا ښارګوټي باید د یو معقول، تخنیکي لحاظه دقیقاً سنجول شوي ښاري پلان له مخې داسې جوړ شي چې له هماغه پیله په کې په ښو شرایطو کې عادي ژوند ممکن وي، د ښار پراختیا په کې په نظر کې نیول شوې وي او د هېواد په لوی اقتصاد کې خپل ځای و موندلای شي. د دې ښارګوټیو اساسي ځانګړتیاوې داسې اټکل کېدای شي:



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

- پینځه زره کورونه: دا کورونه باید د یو متوسط فامیل د اوسېدو له پاره مناسب وي خو د دولتي ځمکو بې رویې بندولو ته به زمینه نه برابروي. په یو سل او پنځوسو مربع مترو کې د څلورو خونو، پخلنځای او تشناب تر څنګه یو کوچنی انګړ به مناسبه طرح وي. ټول کورونه به د یوې نقشې له مخې، یو ځای جوړېږي.
- هر ښارګوټی به د یو نیم مېګاواټ په ظرفیت د لمریزې برېښنا د تولید امکانات ولري.
- د ښارګوټي د کانالیزاسیون، برېښنا او اوبو رسولو شبکې او سهولتونه به له هماغه پیله په نظر کې نیول شوي وي.
- د کوڅې په کچه د کوچنیو هټیو، د مشخص شمېر کورونو د بلاک په کچه د محل تجارتي مرکز، درملتون، مسجد، ښوونځي لازم تسهیلات او د ښارګوټي په سطح اداري مرکز (ښاروالي، امنیت، عامه خدمتونه)، لېسې، عیدګاه، عمومي مارکېټ او... د اساسي اړتیاوو په لړ کې راځي.

دوکانونه او مارکېټونه به د لومړیتوب د حق پر بنسټ د ښارګوټي اوسېدونو، د شاوخوا ولسوالیو او اړوند ولایت پر پانګوالو د دولت له خوا پلورل کېږي. همدا راز به د ښاګوټیو اړوند کرنیز جوړښتونه هم د ښارګوټیو اوسېدونکو ته د پیسو په مقابل کې وېشل کېږي. له دې درکه لاسته راغلي وجوه به د ښارګوټي د عامه تاسیساتو د تمویل له پاره کارول کېږي.

- ښارګوټي ته څېرمه د پینځه سوو شاوخوا د خوراکي موادو د تولید فارمونه
- ...

د نفوسو تراکم ته په کتو د نیمروز (۴)، فراه (۹)، هلمند (۱۵)، غور (۱۷)، بدخشان (۲۰)، کندهار (۲۰)، پکتیکا (۲۱)، بادغیس (۲۲)، هرات (۳۱) هغه ولایتونه دي چې د ښارګوټو د جوړولو له پاره به مناسب وي. البته د بدخشان غرنۍ جغرافیه به د ډېرو مهاجرو د هرکلي له پاره مساعده نه وي. د غور ولایت، کېدای شي د ډېرې تکیې وړ وي، ځکه چې د نوو ښارګوټو جوړېدل به په هغه ولایت کې د اتصالاتي زېربناوو له پراخېدو سره مرسته وکړي او د هېواد دغه مهم ولایت به له جغرافیایي-مواصلاتي بندښت څخه راوباسي.

په دغو ولایتونو کې د ښارګوټو ځای پر ځای کول به ځمکو ته د لاسرسي له اړخه کمې ستونزې جوړې کړي او ولایت ته د نوو، ښاري اوسېدونک په راتلو به په کې د متوازني پراختیا له پاره لا ډېر سهولتونه رامنځ ته شي. همدا راز د هېواد له بېلابېلو جغرافیو او قومونو په یو ځای کولو د ملي یووالي له پروسې سره هم مرسته کېږي.

## ۲ ــ د ملکیت اصول

د ښارګوټو د جوړولو مهالوېش ته په کتو به په ګاونډیو هېوادونو کې مېشت کډوال د بېرته راستنېدلو په ملي پروګرام کې تنظیمېږي. د بیا مېشتېدلو له پاره به طرح داسې جوړېږي چې هم په کې د امکان تر حده د کډوالو غوښتنې په نظر کې ونیول شي، هم په نوو جوړو شویو ښارګوټو کې دیموګرافیک انډولونه او د ټولنیز پیوستون اصول مراعات شي.

د ښارګوټو د جوړولو په چارو کې د استخدام لومړیتوب به هغه کډوالو ته ورکول کېږي چې په همدغو ښارګوټو کې مېشتېدونکي دي، په دویم قدم کې به د اړوندو ولسوالیو اوسېدونکي او په دریم قدم که به د شاوخوا ولسوالیو اوسېدونکي په دې ښارونو کې په کار ګومارل کېږي.

کورونه به مېشتېدونکو کډوالو ته په ښارګوټي کې د پرله پسې پېنځو کالو اوسېدلو د ژمني پر اساس وړيا ورکول کېږي. په دې پېنځو کالو کې به کور د دولت ملکيت وي، ځوک به يې د پېر او پلور او په کرايه ورکولو حق نه لري.
له ښارګوټيو سره تړلې کرنيزې ځمکې به په ښارګوټيو کې پر مېشتېدونکو کورنيو په ټيټه بيه، په اقساطو پلورل کېږي. د دغو ځمکو د پېر او پلور له پاره به خاص شرايط وضع کېږي چې د ځمکو د مافياوو د فعاليت مخه ونيول شي.
پورته ياد شوی چوکاټ به دا شوني کړي چې د ښارګوټيو له جوړېدو سره سم به د ښارګوټيو د اقتصادي ژوند بنسټونه هم رغول شوي وي.

٣ - زماني چوکاټ

د ټولو کډوالو د بېرته راستنېدو له پاره دري کاله وخت په نظر کې نيول کېږي. د بيا مېشتېدنې پروسه به په لاندې پړاوونو کې تنظيمېږي:

- د کوربه هېوادونو او نړۍوالې ټولنې په مرسته د راستنېدونکو کډوالو عمومي سروې.

د دې سروې په ترځ کې به دا هم جوتېږي چې څومره وګړي کومو ولايتونو ته استول کېږي.

- د سروې په نتيجه کې، د تمويل سرچينو ته په کتو د ښارګوټيو د جوړولو پلان
- په تدريج سره د ښارګوټيو جوړول او د اړوندو کډوالو انتقال
- د يو کال له پاره د نوو راستنو شوو کډوالو د مجدد اسکان له پاره د مرستو پروګرام

د پروګرام له پيله، که شپږ مياشتې د سروې او د ښارګوټو د طرحې او ډيزاين له پاره ځانګړې شي او په اوسط ډول د هر ښارګوټي د جوړولو له پاره شپږمياشتې وخت په نظر کې ونيول شي نو د کډوالو لومړۍ جوپه به د پروګرام تر پيل يو کال وروسته وطن ته راشي.
په دغه يو کال کې به د ناراجستر شوو کډوالو او د هغو کډوالو د بيا راستنېدلو کار پر مخ وړل کېږي چې په داوطلبانه ډول خپلو اصلي مېشت ځايونو ته ورګرزي.
د لومړيو ښارګوټو له اماده کېدو سره سم به د دوو کلونو په اوږدو کې هره مياشت شاوخوا سل زره کډوال بېرته راستنېږي.

۴ – تنظيم

د کډوالو د بېرته راستنېدو او بيا مېشتېدو د پروسې د بريالي اجرا له پاره د يو خاص مديريتي چوکاټ جوړول حتمي دي.
د کډوالو د راستنېدو پروسه بايد د يوې واکمنې او ځواکمنې مرجع له خوا رهبري شي. دا مرجع، کېدای شي چې يا د ملي امنيت شورا يو معاونيت وي او يا هم يو خاص کميسيون وي چې مشري يې په خپله ولسمشر يا د ولسمشر په نامه د کډوالو په چارو کې د ولسمشر خاص نماينده کوي او د مهاجرينو، ښارجوړولو، کورنيو چارو، ماليې وزارتونه او د سيمه ييزو ارګانونو خپلواکه اداره به يې د وزيرانو يا د معينانو په سطح غړيتوب لري. ټولې ادارې به د کډوالو د چارو په ارتباط دې کميسيون ته ځواب ورکوي. واکمنه مرجع به په خپله، په هره مياشت کې يو وار، د پارلمان د دواړو خونو د اداري هيأتونو ګډ مجلس ته ګزارش ورکوي.

## يادونه:

که چيری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی ليکوال نوری ليکنی هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کليک» په اجرا کولو سره د ليکونکی مقالی د «آرشيف» فهرست ته، لار بنودنه تر لاسه کړی!

د کډوالو بېرته راتلل(دويمه برخه او پای)
manalay_najib_de_gadwaalo_berta_raatell_٢.pdf